**الدرس عشرون** — **شلم درس**

**قالوا عن محمد ﷺ** — **رسول الله ﷺ باره كښې د اهل فكر رائې**

د رسول الله ﷺ باره كښې د اهل مغرب فلاسفه او مستشرقين (orientalists) د آراء نه معلومه ده چې هغوى هم د رسول الله ﷺ د عظمت قائل وه ، څوک چې اسلام يا پيغمبرِ اسلام پسې پراپيګنډې كوى ، دوى د تعصب او عناد د وجې نه دشمنى كوى ، برطانوى فلاسفې برناډشو،( George Bernard Shaw)خپل «كتاب محمد ﷺ (چې روستو د انګريز حكومت سوزولى وه) كښې ليكلئ دى ، ددى وخت خلق د محمد ﷺ د راوړلى شوى فكر ډير زيات محتاجه دى ، دى نبى هميشه خپل دين ته د عزت او احترام حيثيت وركړى وه ، د هرى معاشرى ضرورت پوره كونكى د ټولو نه ډير كامياب دين دى او د هر ضرورت پوره كولو صلاحيت لرونكى دى ، زه وينم چه ډير انګريزان په روښانه سترګو سره او په دليل باندى د پوهى نه پس پدى دين كښې داخليږى په براعظم يورپ كښې ددى دين د خوررولو ډير مواقع موجود دى ، برناډشو وائى : عيسائى علماؤ په قرون وسطى كښې د خپل جهالت او عصبيت د وجى نه ددين محمد ﷺ غلط تصوير خلقوته ښودلى وو ، او خلقوته ئى د عيسائيت دشمن په ښودلو چې كله ما په خپله ددى دين مطالعه وكړه ، ما ته دا حيران كونكى معجزه معلومه شوه ، او پدى نتيجه باندى ورسيدم چې دى دين ته د عيسائيت دشمن نه بلكه د انسانيت د نجات لارښود وئيل پكار دى ، زما رأيي داده چې كه دا عظيم انسان پدى زمانه كښې د انسانيت انتظام ذمه وارى قبوله كړى، زمونږه ټول مشكلات په حل كړى او دنيا كښې به آمن او خوشحالئ راولئ چې خلق وريسئ ترسيږى ،نوبل انعام والا انګريز فلاسفر توماس كارليل ( Thomas Carlyle لیکلئ دى ، په دى زمانه كښې د يو انسان دپاره غټ جرم دادى ، چې داسى خبروته غوږ كيږدى چې اسلام ته پكښې دروغژن وئيلى كيږى ، دداسى فضول خبرو خلاف جهاد كول پكار دى ، هغه پيغام چې دى ، رسول ﷺ راوړلى دى ، هغه اوس د دولس (١٢) صديو نه پس هم د نمر پشان ځليږى ، تقريبا دوه ارب انسانان دغه دين منى، څوک انسان دا ګمان كولى شى چې په كروړنو خلق بغير د تحقيق نه دا دين منلى شى ، او دا ټول درغ دى ، نه هيڅ كله هم داسى نه ده، هندستانى فلاسفر راماكرشنا وائى : كله چې محمد ﷺ تشريف راوړو ، جزيره عربيه صرف صحراء وه ، دنيا ورته هيڅ توجه نه كوله ، لكن محمد ﷺ په خپلو روحانى كارنامو يو نوى جهان د زمكى په مخ پيداء كړو ، او خلقوته ئى يو نوى ژوند وركړو او د يو نوى تهذيب بنياد ئى كيښود ، يو نوى حكومت ئى قائم كړو ، چې د هغى يوه طرف مراكش او دوهم طرف د براعظم هندوستان پورى رسيدلى دى ، او د ايشياء ، افريقة ، يورپ د خلقو په سوچ او عملى ژوند باندى اثرانداز شو، كينيډين، فلاسفرزويمر(S.M.Zweimer) وائې : بے شكه محمد ﷺعظيم دينى قائد او رهنما وه ، دهغه په ذات باندى دا خبره بلكل رښتنى ثابتيږى ، چې هغه يو عظيم اصلاح كونكى ، وضاحت كونكى ، داعى ، خطيب بهادر او نه يريدونكى وه ، او كم صفات چې ددى مذكوره صفاتو نفى كوى ، هغه صفات ورته نشى منسوب كيدلى ، او قرآن چې پيغبر راوړلى دى هغه قران ئى د رشتنوالى ګواه دى، انګريز فلاسفر سروليم (Sir William Muir) وائى :يقينا محمد ﷺ چې د مسلمانانو نبى دى ، د (مكې) ښار د أوسيدونكو په اتفاق فيصلئ سره ئى د صادق او آمين لقب حاصل كړى وه ، دا مقام ورته د عظيم اخلاق او خائسته سلوک د وجى ميلاؤ شوى وه ، د هر يوه خه صفت تصور چې وكړى شى ، هغه صفت به په اعلى مرتبه باندى پدى نبى كښې موجود وى ، ناواقفه خلق ئى د پيژندنى نه قاصر دى ، څوک ئى چې د خائسته تاريخ مطالعه وكړى هغه ته معلوم شى چې ستا مقام د رسولانو او مفكرين په صف اول كښې دى ، ددى نه پس وائى : ستا مرتبه أوچته ده ، واضحه بيان واله ، حيران كونكى كاميابى ته حاصلى كړى دى، په تاريخ كښې داسى مصلح نه دى تير شوى چې په يو وخت ئى د روحونو اصلاح كړى وى او د خائسته اخلاقو مثال ئى قائم كړى وى او دومره لږ وخت كښې چې محمد ﷺ د اسلام نبى ته ميلاؤ شوى وه ،روسى ناول نګار او مشهور فلاسفر تولستوئى(Leo Tolstoy Nikol) وائى: محمد ﷺ دپاره دا خبره د فخر ده ، هغه غُرځيدلى شوى او د يوبل د وينو تګى خلق د شيطان د بد عادتونو د پنجو نه نجات وركړو او د هغوى مخكښې ته ئى د ترقى دروازى پرانستلى ، د محمد ﷺ راوړلى شوى شريعت به د دنيا رهنمائى كوى ، ځكه چې دا د عقل او د حكمت عين مطابق دى ،دآسټريا فلاسفر شبرک وائى : انسانيت په دى خبره باندى فخر كوى ، چه محمد ﷺ د انسانيت حصه ده ، حلانكى هغه خالص أُمى وه ،